څوک چې سهار او یا بیګا مهال جومات ته لاړ شي، نو الله تعالی به د هغه لپاره په جنت کې د مېلمستیا ځای چمتو کړي، هر ځل چې دی سهار او یا هم بیګا کوي

له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "څوک چې سهار او یا بیګا مهال جومات ته لاړ شي، نو الله تعالی به د هغه لپاره په جنت کې د مېلمستیا ځای چمتو کړي، هر ځل چې دی سهار او یا هم بیګا کوي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چاته - چې د عبادت، علم او نورو نېکو مقاصدو لپاره هر وخت جومات ته ځي - د الله جل جلاله لخوا په جنت کې د ځای ناستي او میلمستیا زیری ورکوي؛ هغه که د ورځې په سر کې وي او یا په پای کې، هر مهال چې جومات ته ځي؛ که شپه وي او یا ورځ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5436